**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات بدوش  نویسندۀ مطلب میباشد

پوهندوی آصف بهاند                                                                                ۲۰۱۵/۰۳/۱۸

# مآخذ، بيبليوګرافي، ريفرينس
## (د ښاغلي عبدالرحيم موسی زي د پام وړ)

زموږ د اوسنيو قلموالو او څيړونکو د کارونو او څېړنو په ترڅ کې د نورو ستونزو او تيروتنو تر څنګ په څېړنه کې له منابعو، سرچينو،مآخذونو، ريفرنس يا بيبليوګرافي څخه د استفادې او نه استفادې ستونزه ډېره عامه شوې ده. زما له ډېر پخوا نه دې ستونزې ته پام و او په ميډيا کې مې چې کله د مآخذ د نه ښوولو او يا په نا سم ډول د يوه کتاب او مآخذ ښوول په مخه راتلل، نو به مې د کمپيوټر د مآخذونو په ځانګړې پاڼه کې دا تير وتنې له آدرس سره په نښه کولې. پلان مې دا و چې په راتلونکې کې دا ستونزې او تير وتنې په ميډيا کې له نورو قلموالو سره مطرح کړم او د اصلاح له پاره يې په ګډه لار پيدا کړو. په دې موضوع څو پر له پسې کلونه واوښتل او د تير وتنو ليست ما سره دومره اوږد شو چې خپله ور ته حيران شوم چې اوس يې چا ته په څه ډول ژر ور يادوي.
ما سره د سر چينو يا مآخذ ښوولو پوهنتوني تجربې او د افغانستان په علمي څېړونو کې د بيبليوګرافی مسلط  قوانين په ذهن کې خوندي وو. دا تجربې او لارښوونې موږ ته لويو استادانو لکه: علامه حبيبي، علامه رشاد، پوهاند ډوکتور حبيب الله تږي، د اکاديميسين کانديد صديق روهي، پوهاند رحيم الهام، ، پوهاند ډوکتور مجاور احمد زيار، سر محقق زلمي هيواد مل  او ... ښوولې وې چې په متن کې څه ډول مآخذ وښوول شي، په لمن ليک کې څه ډول سر چينه په نښه شي او د مقالې ، رسالې او کتاب په پای کې د بيبليوګرافی لست په څه ډول برابر کړای شي.کومو مسايلو ته مآخذ ښوول اړين دي او کومو ته نه دي.
خو له بده مرغه زموږ په هيواد کې دننه او له هيواد نه د باندې زموږ  هيواد والو باندې د ژوند په هره برخه کې انارشي او بې مسؤليتي دومره حاکمه شوې ده چې اوس زموږ ځينې ښاغلي د بې مسؤليتی  په دې دايرې کې د نورو ليکوالو  جملې، پروګرافونه او بشپړې مقالې را اخلي، پرته له دې چې د ليکوال يا څېړونکي نوم او د خپريدو پته او نيټه يې وښيي، په خپل نامه يې خپروي. يا هيڅ مآخذ نه ښيي يا داسې مآخذ ښيي چې لوستونکی تورو نخودو پسې ليږي، ستن په کاهدان کې اچوي او يو چا ته وايي چې اوس ستن پيدا کړه.
د ميډيا د بيلابيلو برخو مسؤلين هم د يوې يا دوو جملو په ليکلو سره ځان له مسؤليت نه خلاصوي:«د مطالبو د ليکنی ښې او د محتوی مسوليت د ليکوال په غاړه دی.» بس خلاص «آبی مړه، تبه يې شکيدلې» که لږ حقيقت ته ځير هم شو او خپل ځان د يوې ميډيا د مسؤل په ځای و ګڼو، نو مسؤل مدير يا شخص به کومه مقاله ژر چيرې تعقيب کړي چې دا نوی راغلی مطلب پخوا چيرې د چا په نامه په څه ډول خپور شوی و؟
زه هره ورځ د خپل ورځني ژوند له کارونو نه په خلاصيدو سره خپلې د پام وړ څو ويبپاڼو دروازې خلاصوم، ورځم او لولم يې. د ۲۰۱۵ کال د مارچ په شپاړلسمه مې کله چې د تاند ور پرانست، مخامخ مې په دې سر ليک سترګې خوږې شوې:
« د نوي نسل په وړاندې زموږ مسؤليت»
د دې سر ليک په ليدلو مې زړه خوږ غوندې ودرزيد او دا مې په زړه کې تير شول چې څه سړيه د نوي نسل د روزلو او زدکړو د تبليغ او رواجولو له پاره دې لکه چې د احسان آرينزی په شان يو بل د لارې ملګری  هم پيدا کړ. د ليکنې په لوستلو مې پيل وکړ. په لومړي پروګراف کې کارول شوي توري، ما استعمال کړو تور غوندې راته ښکاره شول. دويم پروګراف ته چې لاړم، نو پوه شوم چې خپله هغه مقاله لولم چې په ۲۰۱۰ کال کې مې په مالمو کې د يوه سيمينار له پاره ليکلې وه. په بيړه مې هغه ليکلې مقاله په خپل خوندي کړي آرشيف کې پيدا کړه او د ښاغلي عبدالرحيم موسی زي په نامه د خپرې شوې مقالې(د نوي نسل په وړاندې زموږ مسؤليت) په څنګ کې مې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کېښوده. له پرتلنې نه وروسته پوه شوم چې دې ښاغلي د علمي اکاډیمیکو اصولو له مراعات پرته، بدون له دې چې زما نوم یاد کړي یا مآخذ یې وښیي ، زما د دوو مقالو ډېرې برخې را اخیستي دي او په خپل نامه یې چاپ کړې دي.
ښاغلي عبدالرحیم موسی زي زما له دوو مقالو نه بشپړ پروګرافونه را اخیستي دي. په دې مقالو کې یوه مقاله «اور او ګلان» نومیږي چې په ۲۰۱۰ کال په کې مې دسویډن دمالمو په ښار کې دڅوانو فرهنګیانو،ادیبانو،شاعرانو اوژورنالستانودهڅوني،ستا ینې او درناوي دنړیوال کنفرانس په ویاړ لیکلې وه او په هماغه وخت (د دوه زره لسم کال سپتمبر ) کې مې په ځینو ویبپاڼوکې خپره کړې وه:

1-http://larawbar.net/21679.html
2-http://tolafghan.com/posts/19791

اوس به زه د دلته هغه پروګرافونه وښیم چې ښاغلي عبدالرحیم موسی زي کټ مټ را اخیستي دي:
د آصف بهاند د مقالې(اور او ګلان، ۲۰۱۰/۰۹/۲۳ تول افغان) په شپږم پروګراف کې داسې راغلي دي:
«په افغانستان کې د انقلاباتواو بدلونونو په لړکې ډېر افغانان بهرته روان شول چې په هغو کې پښتانه زلمیان هم وو؛ خو توپیر یې په دې کې و چې د نورو قومونو زلمیان اکثرآ په زده کړه پسې ولاړل او د الفت صاحب خبره یې پرځای کړه چې ویلي یې و:((ځوانان باید په علم پسې ولاړشي او د علم رڼا له ځان سره راوړي ))؛ خو زموږ ځوانان په بله خوا روان شول. زموږ د اکثریت ځوانانو او د هغو د کورنیو ویاړ په دې کې و چې ځوانان یې دوبی ته په مزدوری پسې تللي دي.»

http://larawbar.net/21679.html
http://tolafghan.com/posts/19791

د ښاغلي عبدالرحیم موسی زي په نامه د خپرې شوې مقالې(د نوي نسل په وړاندې زموږ مسؤلیت، د ۲۰۱۵ کال د مارچ شپاړس، تاند) په دریم پروګراف کې همدا مطلب کټ مټ را اخستل شوی دی:
«په افغانستان کې د بدلونونو په لړ کې ډېر افغانان بهرنیو هیوادونو ته ګډه شول چې په هغو کې ډېری پښتانه زلمیان هم ول؛ خو توپیر یې په دې کې و چې د نورو قومونو زلمیان اکثراً په سبق او زده کړو بوخت ول د پښتو ژبې خوږ ژبي شاعر الفت صاحب خبره یې پرځای کړه چې ویلي یې وو: (( ځوانان باید په علم پسې ولاړشي او د علم رڼا له ځان سره راوړي )) خو زمونږځوانان کباړ، مزدوری او نورو چارو پسې روان شول او زمونږ ډېری ځوانانواو د هغوی د کورنیو ویاړ په دې کې و چې ځوانان یې لندن او دوبی ته د پیسو پسې تللي دي»
http://www.taand.com/archives/43770
د آصف بهاند د مقالې(اور او ګلان - ۲۰۱۰/۰۹/۲۶ لر او بر) په اتم پروګراف کې داسې راغلي دي:
« وګورئ ! که ښه حقیقت ته ځیر شو، بهرنیو هیوادونوته یې د کفر له ډاره نه لیږو، او د وچو غرو لمن کې د قهریدلي شنه یا وریځ آسمان تر چتر لاندې، یا د پسونو، وزو او خرو په لکۍ پسې تول عمر تیرولو سره خو د نوي عصر نوي علوم زده کیدای نه شي، او کله چې مو نوي علوم او فنون زده نه وي، نو له تمدن سره به بیګانه او له کاروان څخه به یې ډېر وروسته پاتې اوسو، بیا نو نه پښتنو ته څه کولای شو اونه هم پښتو اونه هم پښتني فرهنګ ته.»

http://larawbar.net/21679.html
http://tolafghan.com/posts/19791
د ښاغلي عبدالرحیم موسی زي په نامه د خپرې شوې مقالې(دوشنبه, 16 مارچ 2015) په پنځم پروګراف کې داسې رواړل شوي دي:
«وګورئ ! که ښه حقیقت ته وګورو، بهرنیو هیوادونوته یې د کفر او په اخلاقي فساد له ویرې نه لیږو خو بلخوا یې سپیرو دښتو او د وچوغرو لمن کې د قهریدلي شنه یا وریځ آسمان تر چتر لاندې، د پسونو، وزو اوخرو په لکۍ پسې تول عمر تیرولو سره خو د نوي عصر نوي علوم زده کیدای نه شي،او کله چې مو نوي علوم او فنون زده نه وي، نو له تمدن سره به بیګانه او له کاروان څخه به یې ډېر وروسته پاتې اوسو، بیا نو نه ځان ته، نه پښتنو ته، نه پښتو ،نه هم پښتني فرهنګ او خاورې ته څه کولای شو»
http://www.taand.com/archives/43770
دغه راز ښاغلي عبدالرحیم موسی زي زما له یوې بلې مقالې نه هم یو بشپړ پروګراف را اخیستی دی. د دې مقالې عنوان دی: «څوبیسواده نسلونه او زموږ مسؤلیت (له ښاغلي احسان آرینزي سره دزړه خواله) »چې د نوي نسل د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

روزني په برخه کې د قلموالو مسؤليت ته متوجه وه او د دوه زره څوارلسم کال د جون په لسمه نيټه مې خپره کړې ده. د دې مقالې په وروستی پروګراف کې د نتيجه ګيرۍ په ډول راغلي دي :
«اوس نوکه دا د يو ترخه واقعيت په ډول ومنو، نوبايد دا هم ومنوچې د دې نيمګړتيا رفع کول وخت اوکارته اړتيا لري چې څنګه د دې خلکو او د دې ټولنې په جګړې عادت ماغزه او د جګړې په دود لړلي ماغزه بيرته په هنراوعاطفي باندې پريولل شي، هنري ذوق ورکړل شي، عاطفه او مينه ور وښودل شي چې د جګړې او تشدد لاره پريږدي، په مينې او محبت سره علم زدکړي، د سواد او مطالعې لاره غوره کاندي او په کورکې د سلاح پرځای کتاب، قلم او کمپيوټر وساتي او د ښوونې روزنې اوتعليم په ترلاسه کولو سره د تمدن او نوي ژوند پرلاره روان شي.»

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_zubeswada_nslona.pdf

د ښاغلي عبدالرحيم موسی زي په نامه خپره شوې مقالې(دوشنبه, 16 مارچ 2015 17:14 ) په وروستي پروګراف کې داسې رواړل شوي دي:
«اوس نوکه دا د يوترخه واقعيت په توګه ومنو، نو بايد دا هم ومنوچې د دې نيمګړتيا پوره کول وخت اوکارته اړتيا لري چې څنګه د دې خلکو او د دې ټولنې په جګړې عادت ماغزه او د جګړې په دود لړلي ماغزه بيرته په هنراوعاطفي باندې پرېمنځل شي،هنري ذوق ورکړل شي، عاطفه او مينه ور وښودل شي چې د جګړې او تشدد لاره پريږدي،په مينې اومحبت سره علم زدکړي، د سواد او مطالعې لاره غوره کاندي او په کورکې د ټوپک پرځای کتاب، قلم او کمپيوټر وساتي، د ښوونې روزنې او تعليم په ترلاسه کولوسره د تمدن اونوي ژوند پرلاره روان شي.»
http://www.taand.com/archives/43770

د دې ټولو په ليدلو او پرتلنې سره ما ته دا متل را ياد شو:«يک مي ليدلی و، نه ماغزه وتلی» ځينې چې لږ با انصافه وي د نورو خلکو له مقالو او کتابونو د مآخذ د نه ښودلو په صورت کې را اخستل شوي موادو ، جملو او پروګرافونو ته لږ رنګ ورکوي، بدلوي را بدلوي يې او بل ډول يې سينګاروي، بيا يې په خپل نامه خپروي، خو ښاغلي ښاغلي عبدالرحيم موسی زي په ډېر جرآت او متانت سره بشپړ پروګرافونه را اخيستي دي او مخامخ يې په خپل نامه خپاره کړي دي.
ما چې دا سره مقايسه کړل، حک حيران شوم چې اوس يې څنګه کوې. زه ښاغلي عبدالرحيم موسی زي ته د ادبي سارق نوم هم نه کاروم، ځکه چې بده خبره کارول ما ته ښه نه ښکاري. زه يې داسې انګيرم چې: ښايي ښاغلي عبدالرحيم موسی زي  به په ښه نيت دا کار کړی وي، خو له بده مرغه چې د علمي څېړنو له اصولو سره منافات لري.
ښاغلي عبدالرحيم موسی زي ته او ده ته ورته ځينو نور ښاغلو ته چې ببيليوګرافي اصول، ماخذ ښوول نه مراعاتوي او يا عمدآ سترګې پرې پټوي، زما مصلحت دا دی چې که د ليکنو او څېړنو ډېر شوقيان وي ودې يې کړي دا د دوی حق دی څوک يې مخه نه شي نيولای ، خو لږ دې د څېړنې او ليکنې اصول زده کړي، بيا دې بدې ورته و وهي. لکه د توکيانو خبره:«اول زده کړه، بيا کوزده کړه»
داسې نه ده چې د ببيليوګرافۍ  او مآخذ ورکولو له پاره  لار ښوونې او کتابونه نه شته، نه هر څه شته، خو ځينې ښاغلي يا ځان نه په زحمتوي او د شهرت له پاره په زړه ورتيا سره د بل چا مقالې په خپل نامه خپروي او يا ځان نه پرې خبروي.
د لار ښوونې له پاره مالومات، کتابونه او منابع ښې ډيرې دي، خو زما د معلوماتو له مخې په دې برخه کې تر اوسه پورې تر ټولو علمي او غنيمت اثر «په تحقيقي ليکنوکې د اِستِناد او ببيليوګرافی لنډ لارښود» نوميږي چې ليکوالان يې انتوني وينکلر او جورې مکوين  دي او ښاغلي محمد هارون خپل شعشعي په روانه پښتو په ۲۰۰۶ کال کې ژباړلی دی، د پښتو ژبې  د قوانينو او تجربو پر اساس يې له مثالونو سره يې څرګندونې هم  ورکړې دي .
په دې کتاب کې د ببيليوګرافی يا مآخذ ښودنې علمي قوانين راوړل شوي دي چې په نړيواله کچه د منلو او تطبيق وړ دي او همدا اوس د لر او بر ويبپاڼې په بڼه‌ای کتابتون کې پروت دی. هغه ښاغلي چې د څېړنو، مقالو، رسالو او کتاب ليکلو شوقيان دي، دغه کتاب په وړيا ډول په لر او بر ويبپاڼه کې تر لاسه کولای شي. و دې لولي او بيا دې د کتاب او ژباړن له عالمانه لارښوونو نه استفاده وکړي. دغه يې لينک دی، په يو کليک سره ستاسو په مخ کې حاضريږي:
http://www.larawbar.com/data/library/knowledge/h.khpal/land_larshood.htm#


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

مآخذ ښودنه په پښتو ادب کې ښه اوږده سابقه لري. د همدې اثر«په تحقيقي ليکنوکي د اِستِناد او ببيليوګرافی لنډ لارښود» په مقدمه کې د پښتو ببيليوګرافی د مخينې په باب داسې علمي بحث راغلی دی:
«په علمي او تحقيقي ليکنو کې د ماخذونو يا سرچينو وړاندي کول، خورا پخوانی دود دی. ليکوالو او څېړوونکو زياتره د خپلو نظريو د باوري کولو او اثبات له پاره، پر خپلو تجربو او شهودي برياوو سربېره، اسماني کتابونه، د مخکښو پوهانو، فيلسوفانو او صاحب نظرانو علمي او تحقيقي موندنې د سند په توګه وړاندي کړي دي. په پښتني ټولنه کې هم دا دود او دستور اوږد تاريخ لري؛ د مثال په توګه د عارف شاعر او مؤرخ - علي محمد مخلص په « حالنامه » او د سترګه ګور مؤرخ - محمد هوتک په « پټه خزانه » او ډېرو نورو تاريخي، ادبي او ديني اثاروکې، د استناد سوو سرچينو او ماخذونو پېژندګلوي، له ورايه دا حقيقت جوتوي، چې پښتانه ليکوالان او څېړونکي له پېړيو پېړيو راهيسې د علمي څېړنو له مروجو لارو چارو سره سره اشنا وه . په پښتو ادبياتو کې، اِستِناد سوي اثار زياتره د « سند »، « حوالي » ،« مدرک »، « مرجعي »، « منبعي »، « ماخذ »، « ريفرينس » او په دې وروستيو کلونوکې د « اخځ »، « اخځليک »،« اخيستنځي »او داسې نورو په نومونو ياد سوي دي »
http://www.larawbar.com/data/library/knowledge/h.khpal/land_larshood.htm#
د ښاغلي ژباړن هارون خپل شعشعي په عالمانه مقدمه کې د مآخذونو په باب ښايسته ډېر علمي مطالب راغلي دي چې زه يې د مقالې د لنډيز په غرض نه را اخلم. تاسو کولای شئ کتاب خلاص کړئ او وې لولئ.
په نوره نړئ کې که څوک د بل ليکوال له کوم اثر، مقالې او نظرياتو نه د مآخذ له يادونې پرته او د ببيليوګرافي د اصولو خلاف استفاده کوي، لوی مسؤليت لري، خو زموږ په هيواد او خلکو باندې د حاکمې بې بند و باری او بې مسؤليتی له برکته د نورو مقالې او آثار خلک په خپل نامه چاپوي، څوک پاس هم نه شي ورته کتلی.
په اروپا کې د مآخذ نه ورکولو په جرم د جرمني د هيواد د دفاع وزير غوره مثال کيدای شي. د جرمني د دفاع وزير د خپلې ډاکتری د تيزس د ليکلو په لړ کې د بل ليکوال له نظرياتو او آثارو نه د مآخذ د نه ښولو په تور له سختې جزا سره مخ شو. د «PHD»تيزس يې رد او له دندې نه مستعفي شو.
زه له ځان سره په رسنيو کې د خپرو شوو مقالو او کتابونو د نا سمو مآخذونو يو اوږد فهرست لرم چې دلته د بحث د اوږد والي له پاره نه ور باندې غځيږم، دا د بوې بلې مقالې او رسالې ليکلو ته پرېږدم.
زه د دې مقالې له ليکلو او خپرولو همدا اوس ښښنه غواړم په دې چې دا زما له اوصولو سره منافات لري چې زه دې چا سره تنده يا بده خبره وکړم. زه د کش کرپ شخص نه يم، هر څه په يوه آرامه فضا کې د مخامخ خبرو له لارې حل کول غواړم، خو څه وکړم بله چاره نه وه زه د دې مقالې ليکلو ته د دې په خاطر اړ شوم چې زه ښاغلی ښاغلي عبدالرحيم موسی زي مخامخ نه پيژنم، هيڅ ډول پته يې راسره نه شته چې د ګيلې ځادر مې ورته غوړولی وای، خو له خپلو ليکلو کتابونو. شعرونو، مقالو، نظرياتو او افکارونه دفاع کول خپله وظيفه ګڼم.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ